مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۱/۱۲/۱۹

# غزل

د زړه په سر دیار داغونو مړ کړم
پاس په تندي يې په خالونو مړ کړم

خوږ لکه شات يم په پياله کښې خوندي
د يار د خولې بدو خوندونو مړ کړم

دنګه ځواني دې ياره تاته پيرزو
زه دې ناحق په پيغورونو مړ کړم

پيغله يې ډکه دنخرو ښکاريږي
جانانه زه دې په کبرونو مړ کړم

ورو ويلي کيږم چې دې نه وينمه
ستا بيلتانه په مړو اورونو مړ کړم

زه پسرلی دې خوشال نه کړم کله
اول بندي بيا له زخمونو مړ کړم

مصطفی پسرلی
18/Dec/2021


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ